AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۱۲/۲۰

# د عصر غافلان

تل به هسي ، زمونږ خلـــک پریشـــان وي
که حاکمـــه ، په دي ملـــک کي نادانان وي

ورکـــه لار به ، قـــافله د مـــعرفت کړي
لار ښودان که مـــو د لاري ، کور دلان وي

دانایان به تل تر تله ، زندی ، کـــــــیږي
په صـــورت کي د انسان ، که دا دیوان وي

د حیـــــات تضمین به ، نه وي د دردمنو
که چاروکي ، د دوران مو جـــاهلان وي

قافله به د مقصـــــــــود رسي ، کمال ته
استادان که مو ، د علم خـــــــاوندان وي

انتبـــاه به ، لـــه فاني دنیـــا وانـــخلي
حاکمـــان کـــه مو د عصـــر ، غافلان وي

د امید کشـــــتی به ډوبه شي ، غرقاب کي
کـــه روان په کږو لارو ، آشنـــــایان وي

سید عبیدالله نادر
کال ۱۳۷۸پیښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ